## حَبلُ‌المـَتین (۵): آیا چارواکو او د قدرت خاوندانو ته امید درلودی شو؟




یوه مسئله چې د بیت المقدس له قضیې او د افغانستان په امنیتي سکتور کې د «اصلاحاتو» له موضوع وروسته په ځینو کسانو کې گرمه شوې، چې وایي: حزب التحریر له یوه اړخه په اسلامي نړۍ کې حاکم نظامونه ناروا او چارواکي یې فاسد گڼي؛ خو له بل پلوه حزب پر همدغه طبقه تمرکز کوي او د ملاتړ، طلب نصرت او د قدرت د تسلیمۍ توقع ترې لري. دا ډله خلک حزب التحریر پر یوه دوه گونې لوبه او د سیاسي قضیو پر وړاندې پر متضاده کړنلاره تورنوي.

په دغه مسئله کې پېچلې خو مهم واقعیت نغښتی. هغه انسانان چې له نصوصو او د ټولنې له واقعیتونو سم او ژور درک نه لري، ټولو مسایلو ته د منطق او منطق بازۍ له زاویې گوري او هر اړخیز سیاسي لید نه لري، له دې مسئلې لاس نه اخلي. د دې پېچلتیا د حل لپاره اړتیا ده، چې د انبیاوو علیهم سلام تاریخ او قرآني آیتونو ته رجوع وشي، چې د دا ډول حالت سره د مخ کېدو پر مهال یې څه دریځ درلود او په دې اړه یې څه لارښوونې فرمایلې دي:

الله سبحانه و تعالی په «طه» سورت کې فرعون ته د موسی علیه‌السلام د دعوت په باب داسې فرمایي:

﴿اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ * فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ﴾ [طه: ۴۳-۴۴]

*دواړه (موسی او هارون) فرعون ته ورشئ، ځکه هغه (له الله څخه) سرغړونه کړې. نو په نرمه لهجه ورته ووایئ، ښایي هوښیار شي او (حق دین ومني) یا ووېرېږي او (له سرغړونې لاس واخلي).*

یعنې الله سبحانه وتعالی موسی او هارون علیهما السلام ته امر کوي، چې فرعون حقیقت ته دعوت کړي. ممکنه ده، چې دی دا دعوت او لارښوونه ومني، لبیک ووایي او له الله سبحانه وتعالی ووېرېږي. هغه فرعون چې د خدایۍ دعوه یې کوله او د خپل قدرت او حکومت د ساتنې لپاره یې له هېڅ ظلم او استبداد څخه دریغ نه کاوه، تر دې چې نوي زیږېدلي ماشومان یې هم وژل. خو پر دغو جنایتونو او خباثت سربېره، الله سبحانه وتعالی خپلو پیغمبرانو ته امر کوي، چې هغه دعوت کړئ، ښایي حق دین ومني او له عناد، سرغړونې او له خپل مرکب جهل څخه لاس واخلي.

د دې تر څنګ انبیاء علیهم السلام په ځانګړې توګه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولنې د تغیر لپاره په همدې طریقه دعوت کاوه، تر څو فاسد ځواکمن او د قدرت خاوندان د خپل دعوت برخه وګرځوي او شخصیتونو ته یې د اسلام په ګټه تغیر ورکړي. دا بې هدفه نه وه چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم د عامو خلکو د دعوت تر څنګ د قبیلو مشران او د قریشو ځواکمن لکه شیبه، ولید بن مغیره، ابن هشام (ابوجهل)، حضرت عمر او نورو ته هم پام کاوه او هغوی یې اسلام ته دعوتول. په خپله یوه دعا کې به یې فرمایل: «یا الله! د اسلام دین د دغو دوو کسانو: عمر بن الخطاب یا ابوجهل بن هشام -هر یو چې تا ته محبوب وي- په مسلمانېدو قوي کړه!»

نو دا چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د کار طریقه زموږ لپاره «اُسوه حسنه» ده، موږ ته هم اړینه ده چې د اوسنیو فاسدو ټولنو د تغیر لپاره ځواکمن، جنرالان او زور لرونکي دعوت کړو او د ځان ملاتړي یې کړو.

دلته ډېر مهم درس دا دی، چې موږ باید د دعوت او نورو ته د اسلام د حمل پر مهال نهیلي نه شو، په ځانګړې توګه کله چې زموږ مقابل لوري ته فاسد، ظالم او شریر انسانان وي؛ ځکه موږ له راتلونکي او د کار له نتیجې خبر نه یو، چې ایا دغه ظالم او فاسد کس زموږ دعوت مني که یې ردوي؟ په تاریخ کې زیات انسانان تېر شوي، چې یو وخت یې له اسلام او مسلمانانو سره دښمنۍ ته ملا تړلې؛ خو کله چې دوی ته د حق دعوت رسېدلی، اسلام یې منلی او د اسلام په لېږد کې تر نورو مخکښان شوي.

پر دې سربېره کله چې دا موضوع په قرآن کې لولو یا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سیرت کې ورته متوجه کېږو او هغو ته په پام د اوسنیو مستبدو او شریرو نظامو حالت مطالعه کوو، دې نتیجې ته رسېدی شو چې اوسني نظامونه د ځمکې پر مخ د فرعونیانو د حکومت د لړۍ بل مخ دی؛ خو توپیر یې دا دی چې د دغو نظامو سبک او سیاق او پکې ښکېل عناصر د موسی علیه سلام او فرعون یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمان سره توپیر لري.

پورتنیو ټکو ته په پام څوک چې مادي ورتیا لري، تر څو حزب التحریر ته نصرت ورکړي او راشده خلافت تاسیس کړي، له سیاسي رهبرانو او د مسلمانانو له اردو پرته بل څوک نه دي. که څه هم یو شمېر یې فاسد او د اوسنیو

طاغوتي نظامونو يوه برخه دي؛ خو بيا هم دا ډله بايد دعوت شي او د حق پيغام په غوره طريقه وررورسول شي. په هر حال د اسلامي امت يوه برخه ده، مگر غلطو افکارو او فضا هغوی په فساد ککړ او بې لارې کړي. نو بايد د دوی د توهين او ښکنځلو پر ځای له مهربانۍ، شفقت او رحم څخه کار واخيستل شي، د حق پيغام هغوی ته ورسول شي او د اسلامي دولت د تاسيس لپاره پر دوی کار وشي، تر څو يې ملاتړ جلب کړي او ټول په يوه صف کې د اسلامي ژوند د رامنځته کېدو لپاره په ټوليز ډول انرژي او هڅې متمرکزې کړي.

نو الله سبحانه وتعالی داسې مهال دا پيغام پيغمبرانو ته ورکړی، چې فرعون او په ټولنه کې د قدرت خاوندان دعوت کړئ، امکان لري چې له غفلته لاس واخلي، هوښيار شي او تغير وکړي. نو موږ ولې دې ناسمې پايلې ته ورسېږو، چې د متنفذينو، سياسي او قومي رهبرانو، د ټولنې د زورمندانو، د فوځ د جنرالانو او قوماندانانو دعوت يوه متناقضه او نهيلې کوونکې مسئله ده. دا طبقه که په هر ډول فساد ککړه وي، بيا هم مسلمانان دي او بايد د حق دعوت ورته ورسېږي

حزب‌التحرير د ځينې ډلو په څېر "د حذف پر سياست" متعقد نه دی، بلکې باور لري چې د ټولنې د زورمندانو طبقه بايد د هغه دولت د تاسيس لپاره د دعوت او ستر خير برخه وي، چې د اسلام ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم يې په مدينه کې بنسټ اېښی و او ۱۳ سوه کاله يې د نړۍ رهبري او سياست کاوه؛ خو د مسلمانانو د غفلت او انحطاط او د غرب د توطيو له امله راوپرځېد. نو دغه دولت -چې امام ابوحنيفه رحمه‌الله عليه د ټولو فرضونو مور گڼلی- تاسيس يې يوازې د حزب التحرير وجيبه نه، بلکې د ټولو مسلمانانو په ځانگړې توگه د ځواکمنو طبقې او جنرالانو مکلفيت دی.

پاتې دې نه وي، چې دعوتگران بايد پوه شي، چې ژوند د ابتلاء (افشا کېدو) پروسه ده او موږ هله غوره امت يو، چې د اسلام دعوت خلکو او ټولنو ته حمل کړو. نو پر دغه اساس موږ مکلف يو، تر څو هماغسې چې رسول الله صلی‌الله عليه وسلم اسلام حمل کړ او د قيامت پر ورځ به پر دوی شاهد وي، زموږ مکلفيت يې هم پر نورو امتونو او خلکو شهادت تعين کړی. نو که څوک د حق لور ته دعوت ومني، د حشر پر ورځ دا شهادت ادا کولی شو، چې موږ دعوت وررسولی و. له همدې امله موږ د دعوت، سياست، جهاد او شهادت امت يو.

پايله دا چې همدا جنرالان او رهبران تصميم نيسي، چې د هدايت لار نيسي او نوم يې په تاريخ کې د حق بهادرانو او ملاتړو په توگه ثبتېږي، چې پای يې ستر بری او د جنت غوره تعمتونه دي که خپل نوم د تاريخ په ډارنو کې ليکي، چې د کار پايله به يې په دنيا او اخرت کې سرټيټي او مختوري وي.

**مصدق سهاک**

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر غړی**